AjSO
Afghanistan Journalists
Support Organization

په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت

له افغان خبریالانو د ملاتړ سازمان راپور

2024

په افغانستان کې د جمهوري دولت تر سقوط (۲۰۲۱ کال اګست ۱۵) روسته یو لوی ارزښت، چې ږنګ شو اطلاعاتو ته د لاسرسي حق او د بیان و رسنیو ازادي وه.

د طالبانو واکمني له پیله د رسنیو د کار په محدودولو پیل وکړ. ګڼې رسنۍ د محدودیتونو، سانسور او له نوي وضعیت سره د اقتصادي ستونزو له کبله وتړل شوې او هغه محدودې رسنۍ چې لا هم فعالې دي، له ورځ په ورځ زیاتېدونکیو محدودیتونو او سانسور څخه ځوریږي. د ښځینه خبریالانو پر کار محدودیت د بندیز تر بریده رسېدلی او د خبریالانو تعقیب، تعذیب، تبعید، تهدید او زنداني کول لاهم روان دي.

خو تر دې زیات ریښتینو اطلاعاتو ته د خلکو او خبریالانو د لاسرسي د حق له منځه وړل دي. طالبانو له لویه سره د عامه افکارو او تولیز ذهنیت د کنترول لپاره درې ډوله چلند کوي. شدید سانسور، د فلترشویو تبلیغاتي اطلاعاتو خپراوی او د عامه افکارو د فضا مسمومیت.

افغانستان د تېر جمهوري دولت پر مهال اطلاعاتو ته د لاسرسي یو ښه قانون درلود او تولې اداري مکلفې وې چې د یاد قانون پر پنسټ، رسنیو ته معلومات ورکړي. طالبانو نه یوازې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په تاخچه کې ایښی، بلکې خپله یې هم په دې برخه کې هېڅ لیکلی سند نه‌دی جوړ کړی چې له مخې یې رسنیو او خلکو ته معلومات ورکړي. طالبان له دغې قانوني تشې نه په ګټې اخیستنې پر رسنیو هغه څه مني او کوي چې دوی یې غواړي.

په دغو درېیو ساحو کې د ترلاسه شویو دقیقو پېښلیدونو پر بنسټ لاندې تخطۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي په لار کې دغه مشخص خنډونه یادولای شو:

۱ــ سانسور **Censorship** : د طالبانو د ځانګړیو ادارو له‌خوا د معلوماتو او رسنیو محتوا په شدت کنټرول او محدودیږي. هېڅ رسنۍ د هېڅ یوې مهمې موضوع په اړه د طالبانو د ځانګړیو تاکل شویو ادارو سره له هماهنګۍ پرته څه خپرولای نه شي. طالبان اوس په افغانستان کې له درې ډوله سانسور څخه پوره ګټه اخلي.

د معلوماتو له را تولېدو او د هغو له خپرېدو څخه مخکې سانسور:

طالبانو وار دمخه په مرکز او ولایتونو کې د رسنیو ادارو ته مکتوبونه لېږلي او د خبریالانو او د رسنیو د نورو کارکوونکو لپاره یې سرې کړنې تاکلې دي. هغه څه چې طالبان یې د خپلې واکمنۍ خلاف بولي او دوی تر پوښتنې راولي، هېڅ رسنۍ او خبریال حق نه‌لري چې پر هغو سوژو کار وکړي، یا یې په اړه خپرونې جوړې کړي.

د معلوماتو را ټولولو پر مهال سانسور:

طالبان هېڅ خبریال او د رسنیو بل کارکوونکي ته اجازه نه ورکوي چې د دوی له اجازې او خوښې پرته معلومات خپاره کړي. د طالبانو ویندویان یا په ولایتونو کې د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو مسوولان چې کله له خبریالانو سره مرکې کوي او معلومات ورسره شریکوي، لومړی خو هغه موارد چې د طالبانو خلاف یا یې پر زیان وي، نه ورسره شریکوي، خو که خبریال هڅه وکړي چې ترې را وایې خلي، بیا مستقیمې سپارښتنې ورته کوي چې کوم معلومات تر خلکو رسولی شي او د کومو د خپرېدو اجازه نه لري.

د دې تر څنګ، د طالبانو ویندویان او په ولایتونو کې رسنیو ته د اطلاعاتو ورکولو مسوولان د خبریالانو هغه پوښتنې نه ځوابوي چې د دوی پر زیان دي، خو که یې کله ځواب هم کړي، بیا هغه معلومات نه ورکوي چې خبریالان یې ترې غواړي. دوی هڅه کوي چې خبریالانو ته بې‌ګټې او اضافي معلومات یا هم له موضوع څخه د باندې معلومات ورکړي.

د معلوماتو له خپرېدو وروسته سانسور:

طالبان په استخباراتو ریاست او کورنیو چارو، د اطلاعاتو او کلتور او د امر بالمعروف او نهي عن‌المنکر وزارتونو کې د رسنیو د څار لپاره ځانګړې برخې جوړې کړې دي. دغه ډلې هره ورځ د رسنیو له لوري خپرېدونکي خبرونه، راپورونه، خپرونې، سوداګریزې خبرتیاوې او ان د رسنیو زېرکنالونه او پروموکاني څاري. هغه معلومات چې د طالبانو د پالیسي خلاف دي یا یې خپرېدل د دوی واکمني تر پوښتنې لاندې راولي، هغه نه یوازې په نښه کوي، بلکې هره اداره یې له خپل ادرسه د دغو معلوماتو د خپروونکې رسنۍ پر وړاندې اقدام کوي. طالبان د رسنیو مدیرانو یا هم مشخصو خبریالانو ته زنګونه وهي، خپلو دفترونو ته یې احضاروي او نه یوازې د خپرو شویو معلوماتو د لرې کېدو غوښتنه ترې کوي، بلکې هغوی ګواښي، ترتې یې او خبرداری ورکوي، څو په راتلونکي کې ورته معلومات بیا خپاره نه کړي.

۲ــ پروپاګاند Propaganda : د طالبانو له‌خوا د عامه فکرونو اغېزمنولو لپاره کمراه‌کوونکي یا تعصبي معلومات خپریږي. د اقتصادي پروژو او امنیت په اړه له اغراق او مبالغې ډک تبلیغات کیږي، خو په حقیقت کې امنیتي وضعیت ماتېدونکی دی، هره ورځ مشخص ترورونه کیږي، په تېره بیا د پخواني ملي مسلح ځواک غړي په مرموزه توګه وژل کیږي، داعش او نورې وسله‌والې ډلې بریدونه کوي، خو د امنیت د ټینګښت د پروپاګندې په دوړو کې دا هرڅه پټیږي، بلخوا د خلکو په اقتصادي ژوند کې کوم مثبت بدلون نه لیدل کیږي. ولږه، فقر، وزګاري او ملاماتوونکي مالیات ورځ تر بلې پر خلکو فشار راوړي. طالبان د پروپاګند په برخه کې د خلکو له عقیدوي ارزښتونو منفي ګټنه کوي او خپلو تبلیغاتو ته دیني رنګ ورکوي.

۳ــ د اطلاعاتو کنټرول او خارنه Information Control : طالبان رسنیو ته ګوتخنډنه کوي، چې یوازې هغه اطلاعات خپاره کړي، چې دوی یې ورته وایي. تر ګنو بریدونو روسته رسنۍ د تلفاتو دقیقو شمېرو ته لاسرسی نه لري، ډېر ناوخته، چې نور نو موضوع خپل خبري لومړیتوب له لاسه ورکړي، د یوه خونړي برید تلفات په نشت شمار وګڼل شي او هماغه اطلاعات د ناوخته خپرېدا اجازه مومي، چې طالبان یې رسنیو ته ورسپاري.

۴ـ ناسم اطلاعات Disinformation : طالبان په ډېرو برخو کې په لوی لاس ناسم معلومات خپروي، چې عامه افکار تېرباسي. ډېر ځله د هغو وژل شویو پخوانیو پوځیانو د قتل عوامل شخصي دوښمنۍ ګڼي او ګڼ مرموز قتلونه او شکنجې په نامعلومو وسلوالو وراړوي. له ښځو سره د تاوتریخوالي او شکنجو خبرونه چې عیني شاهدان یې د طالبانو کار بولي، دوی ورته د کورنیو شخړو یا شخصي دوښمنیو نوم ورکوي.

۵ــ رسنیزه لاسوهنه Media Manipulation :واکمنه ډله د رسنیو محتوا کنټرولوي او ډېر ځله یې په خپله ګټه بدلوي. دوی د ښځو او مدني ټولنې د اعتراضونو په اړه کلیشه‌یي څرګندونې کوي، هغه د بهرنیانو کار ګڼي او عاملین یې هغه خلک ګڼي، چې غواړي بهر ته د تللو چانس ترلاسه کړي.

تر دې ورهاخوا د دقیقو معلوماتو پر بنسټ طالبانو یوشمېر اشخاص د پیسو په وړاندې ګومارلي، چې په رسنیو او ټولیزو جالپانو کې د دوی په ګټه تبلیغات وکړي او د روښانفکرانو، مدني فعالینو، ښځینه مبارزو او مخالفو سیاسي شخصیتونو په وړاندې ورځني تبلیغات وکړي. د ځینو شمېرنو له مخې د دغو

کسانو شمېر سلګونو ته رسېږي، چې هر یو یې څو IDs لري او ان کې شمېر نارینه د ښځینه‌وو له نومونو او عکسونو څخه کار اخلي. البته د یادونې وړ ده، چې دې ته ورته ای‌ډي‌ګانې له طالبانو پرته د نورو سیاسي یا قومي ډلو، شخصیتونو او پوځي کړیو له‌خوا هم ګومارل شوي، چې له دوی سره د متفاوتو فکر کوونکیو پر ضد منفي او ورانکاري تبلیغات کوي. دا هم لیدل شوي، چې طالبان د ځینو مشهورو شخصیتونو له نامه څخه په خپله ګټه تبلیغات کوي، له هغې ډلې د ښځینه خبریالانو، د پارلمان له غړیو او نورو پېژندل شویو شخصیتونو له نومونو، عکسونو او ادرسونو څخه په استفادې د طالبانو په ګټه او نورو ته له سپکاوي ډک تبلیغات کوي. دوی په فیسبوک، ټیک‌ټاک او په ټېره بیا X (پخوانۍ ټویټر) کې ډېر فعال دي. دغه معاش اخیستونکي مستعار تبلیغاتي ادرسونه په لاندې تخطیو بوخت دي:

۱ــ **د شخصیتونو ترور Character Assassination** : د پخوانۍ جمهوري دولت مخور شخصیتونه، د طالبانو سیاسي – پوځي مخالفان، روښانفکران، ښځې، ملتپال، مدني فعالین او خبریالان په سیستماتیکه توګه بدنامېږي. ټولو هغو افغانانو ته چې تر سقوط روسته یې د طالبانو تر استبداد لاندې ژوند نه شو کولای او له هېواده وتلي دي، د ټاکلیو درواغجنو تورونو په خپرولو د هغوی شخصیت ځپي او سپکاوی یې کوي.

۲- **تورنول، تهمت او افترا Defamation**: د طالبانو له‌خوا ټاکل شوي تبلیغاتي ادرسونه په خپلو مخالفانو سناریو شوي تورونه او اتهامات واردوي، چې په دې توګه ناسمې یا ګمراه کوونکې څرګندونې د هغوی فردي شهرت ته د زیان رسولو په هدف ترسره کېږي. په دې برخه کې په مشخصه توګه هغه خبرونه د پام وړ دي، چې د طالبانو له‌خوا نیول شوي خبریالان یا مدني فعالان په اخلاقي جرمونو تورن شوي او د هغوی د نیولو عامل سیاسي نه، بلکې جرمي ښوول شوی دی.

۳ــ **بدناموونکی کمپاین Smear Campaign** : د واکمنې کړۍ بدناموونکي اقدامات له تنظیم شویو هڅو سره تړاو لري چې د مخالفانو د شهرت او اعتبار تخریب کوي. د یو شمېر مخالفانو د کورونو او شخصي حریم رسنیز کول د دغو هڅو مشخصه برخه ده.

۴ــ **سپکاوی Verbal Abuse** : د طالبانو له‌خوا هغه افراد چې په ټولیزو رسنیو کې د تبلیغاتو لپاره ګومارل شوي، د خپلو مخالفانو له‌خوا له سپکاوي ډکه ژبه کاروي. دوی ښکنځلې کوي او هر هغه افغان چې د

دوی په شـــان فکر نه کوي، کافر يې ګڼي. د طالبانو کومارل شـــوي تبليغاتي ادرســـونه په پراخه پيمانه له پوچو ويناوو او تکفير څخه د خپلو مخالفو روښانفکرانو په وړاندې ګټه اخلي.

۵ـــ **کرکه پارونه** :**Hate Speech** : طالبان د خپلو رسـنيو او تبليغاتي ادرسـونو له لارې د نورو سـياسـي، مذهبي او توکميزو مخالفانو په وړاندې د خلکو کرکه راپاروي. دوی د ســلفيانو، حزب اســلامي، شــيعه هېوادوالو او ان د جمهوری دولت د ټولو کارکوونکيو او مدني فعالانو په وړاندې په عامه افکارو کې کرکه راپاروي. هڅه کوي، د طالبانو له لاسه تبعيد شوي افغانان په تبليغاتي شايعاتو وځوروي او ان د خلکو د ډارولو لپاره د پخوانيو ويډيوګانو او ټکان ورکوونکيو تصويرونو له بيا بيا خپراوي څخه کار اخلي.

په عمومي سر کې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې افغانسـتان کې د رسـنيزو اخلاقو او قانونمنده رسـنيز چلند هيڅ اصـل نه رعايتيږي او په دې برخه کې هېڅ رسـنيز فعال په خپلو صـلاحيتونو، حقونو او مسـئوليتونو څکه نه پوهيږي، چې په دې برخه کې کوم مشـخص قانون نافذ نه دی. لويه سـتونزه دا ده، چې طالبان له دې ټولو مسـايلو سـره په ۲۱ مه پېړۍ کې د شـريعت پر بنسـټ برخورد کوي، حال دا چې په شـريعت کې د رسنيو په اړه ټاکلي يا قرارداد شوي کودونه نشته او هر ډول چې د حاکمې ډلې ګټې يې ايجابوي، تفسيريږي.

له افغان خبريالانو د ملاتړ سـازمان د دغه پېښـليد په پای کې په ټولو نړيوالو مسـلکي بنسـټونو، رسـنيزو سـازمانونو او همکارو نهادونو پام دغو سـتونزو ته رااړوي، چې په دې اړه د مشـخصـو بحثونو د راپيلولو ترڅنګ داســې لارې چارې په ګوته کړي، چې له مخې يې تر دې زيات د افغانانو د عامه افکارو د انحراف او سرګردانۍ مخه ونيسي.

موږ وړانديز کوو، چې د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د افغانسـتان د رسـنيز او مدني ډګرونو دغه جدي او مهم ګوابښ او ستونزې ته تخصصي او مسلکي پاملرنه وشي او د هغه په وړاندې داسې لارې چارې په ګوته شي، چې افغانان هم ريښـتينو اطلاعاتو ته لاســرســی ولري او هم تر دې زيات ټاکلي شـخصـيتونه يا بنسـټونه قرباني نه شي.

د افغانستان د ژورنالیستانو ملاتړ سازمان